# د پښتو نوې املا او لنډ ګرامر

*Pashto new Orthography and short Grammar*

**لیک : ډاکټر دیدار یوسفزے**

معاون : ډاکټر مراد جمال



خپروونکي

Pashtun Council Canada پښتون کونسل کنېډا

پښتو ادبي جرګه کالاکلے سوات

## د پښـــــتو ژبې الفبې

د پښتو په الـفبې کښې څلور څلوېښت توري دي ـ چې ترتيب ئې څۀ په دې ډول دے

ا ب پ ت ټ ث ج ځ چ څ ح خ د ډ ذ ر ړ ز ژ ږ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک
ګ ل م ن ڼ و ه ي ې ی ئ ۍ ے

په دې ټولو تورو کښې صرف دغه لاندیني يولس توري د پښتو خپل توري دي
ټ ـ ځ ـ څ ـ ډ ـ ړ ـ ږ ـ ښ ـ ګ ـ ڼ ـ ۍ ـ ې

لس پکښې د عربی دي
ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق

## د پښـــــتو مخصوص توري او املا

د ( ټ ـ ډ ـ ړ ـ ګ) اوازونه په نورو ژبو کښې شته، صرف د ليک په لحاظ مخصوص دي ـ اؤ د پاتې مخصوصو تورو استعمال په لانديني ډول دے ـ

ځ :

اول : هغه لفظونه چې د پښتو خپل دی ـ يعني د نورو ژبو نه نۀ دي راغلي ـ هلته کۀ د " ز" اواز راځي ـ نو هغه به په " ځ " سره ليکلے کيږي ـ لکه ځيرک، ځلان، ځوان، ښځه، ورځ، وريځ او داسې نور ـ خو لږه استثنا پکښې شته لکه ( زۀ ـ زما ـ زمونږ)

دوېم : هغه ټکي چې جنوبي پښتونخوا واله ئې په "ج" اد کوي او مونږ ئې د "ز" په اواز هغه به هم په "ځ" ليکو ـ لکه جوان ـ ځوان، جيګر ـ ځيګر، جنګل ـ ځنګل

درېم : ځني هغه د نورو ژبو لفظونه چې په " ج" ليکلے کيږي نو هغه به هم مونږ په " ځ " ليکو لکه
جان ـ ځان ، جاندار ـ ځاندار، جولی ـ ځولۍ ، جانور ـ ځناور او داسې نور

## څ :

هغه اوازونه چې زمونږ سره پۀ " س" ادا کيږي ـ او د جنوبي پښتونخوا ډېر پښتانۀ بالخصوص مروت يې پۀ "چ" سره ادا کوي - هغه به مونږ پۀ "څ" سره ليکو ـ لکه چمچۍ۔ څمڅۍ، چادر ـ څادر، چپر۔ څپر، چپلۍ ـ څپلۍ او داسې نور

## ږ :

هغه اوازونه چې زمونږ سره پۀ " ګ" ادا کيږي ـ او پۀ جنوبي پښتونخوا کښې پۀ " ژ " سره ادا کيږي - هغه به مونږ پۀ " ږ " سره ليکو ـ لکه غوژ ـ غوږ، لېژل ـ لېږل، مونژ ـ مونږ، لژ ـ لږ، کوژ۔ کوږ، ژيره ـ ږيره او نور

## ښ :

د مخرج پۀ لحاظ ئې اواز د خ او ه تر مېنځه دے - اسانه پېژندنه ئې دا ده ـ چې کوم اواز جنوبي پښتونخوا واله په " ش" سره ادا کوي ـ او مونږ ئې پۀ " خ" سره ادا کوو ـ هغه به پۀ "ښ" سره ليکو ـ لکه: شاغلے ـ ښاغلے، پېشور ـ پېښور، لشکر۔ لښکر، شاخ ـ ښاخ ، ماشام ـ ماښام، شه ـ ښه، شامار ـ ښامار او داسې نور

## ڼ :

دا هم د پښتو مخصوص تورے دے ـ دا د لفظ پۀ مېنځ کښې يا پۀ اخيره کښې هله استعماليږي ـ چې د "ن" اؤ د "ړ" اواز ترې يو ځائې مقصود وی ـ لکه کوڼ، کڼاوه، پڼې او نور ـ

د دې نه علاوه اکثر ليکوالان د " ه " او د " ۀ " په استعمال کښې هم د کشالې سره مخ وي ـ

## سخته "ه" :

اول: د دې استعمال زياتره د مونث لفظونو پۀ اخير کښې کيږي ـ لاره، کوڅه، لمبه، خفه

دويم: چې کله د مذکر نه مونث جوړوو ـ لکه د تور نه توره ، د بد نه بده وغېره

د دې نه علاوه چې کوم مذکر اسمونه پۀ اخيره کښې زوَر لري ـ هغه به هم په دې ه ليکو۔ لکه د مراد نه مراده ، ديدار نه ديداره او نور

نرمه " ۀ " : چې د پاسه "ء" لري ـ د دې استعمال د مذکر لفظونو په اخیر کښې کیږي ـ لکه زړۀ، نیکۀ، مازغۀ او نور

د جمع مذکر په اخیر کښې هم د دې استعمال کیږي ـ لکه تلۀ، خواږۀ ـ تراخۀ ـ
د دې نه علاوه " اوبۀ " جمع مونث اواز دے ـ خو استثنا لری او د خپل اواز تر مخه پۀ نرمه ه لیکلے کیږي ـ

## معروف واو :

چې کله د واو پۀ اواز زور وي ـ د پیژندنې له پاره به د جملې پۀ مېنځ او اخیره کښې پۀ مخکښې توري پېښ لګوو ـ خصوصا چې کله دغه اواز د مجهول واو پۀ شکل هم موجود وي ـ لکه لُور، سُور، نُور او یا بالُو، سالُو، شــلتالُو وغېره

## مجهول واو :

چې کله د واو پۀ اواز زورنۀ وي ـ لکه کور، شور، مور او یا شادو، زانګو وغېره

## معدول واو :

هغه واو چې اواز نۀ لري ـ خو پۀ لیک کښې وي ـ لکه خواه مخواه، تنخواه وغېره

د ې ګانو ترتیب څۀ پۀ دې ډول دے ـ
ي، ې ، ی، ئ، ے

## ي :

اوله غونډه "ي" یا یائې معروف، معروفه ورته څکه وائي ـ چې دا پۀ نورو ژبو کښې هم شته ـ دا د لفظ پۀ شروع، مېنځ اؤ پۀ اخیره کښې لیکلے کیږي ـ پۀ مېنځ کښې چې پۀ اواز ئې زور وي ـ لکه تقدیر، تصویر، زنځیر وغېره ـ د لفظ پۀ اخیر کښې د جمع مذکر له پاره لکه میږي، لرګي، منګي وغېره ـ د واحد غائب له پاره د جملې پۀ اخر کښې لکه وړي، کوي، ځي، راځي، ورځي اوداسې نور ـ د دې نه علاوه ئې د نسبت جوړولو له پاره هم استعمالوو ـ لکه د ادب نه ادبي ، د شر نه شري اوداسې نور ـ

## ې :

دوېمه یائې مخصوصه "ې" د پښتو مخصوصه ې ده ـ چې په نورو ژبو کښې نشته ـ ځکه ورته مخصوصه وائي ـ صرف د لفظ په مېنځ یا اخیره کښې لیکلے کیږي ـ د دې استعمال هله کیږي ـ چې په ې زور نهٔ وی ـ پهٔ مخکښې توري زېرکے ( ِ ) وي ـ اؤ اواز ئې د غونډې اؤ اوږدې ې په مینځ کښې وي ـ لکه سپړ، تېر، هېر اوداسې نور ـ پهٔ اخیر کښې لکه جرګې، تودې، نغمې ـ

د دې نه علاوه چې د کوم مفرد اخر کښې ه وي ـ جمع به ئې پهٔ یائې مخصوصه وي ـ لکه ډیوه ، ډیوې – لمبه ، لمبې – تغمه ، تغمې اوداسې نور

## ۍ :

درېمه یائې تانیث "ۍ" یا مونث ې ده ـ چې د لکۍ ې ورته هم وئېلے کیږي ـ دا ې صرف د لفظ پهٔ اخیره کښې لیکلے کیږی ـ استعمال ئې د هغې مؤنث اسم پهٔ اخیر کښې وي ـ چې واحد اؤ جمع ېئ یو شان وي ـ لکه لکۍ، سپوږمۍ، کټوۍ، کرسۍ او نور –

## ئ :

څلورمه ې امریه ، حکمیه یا د فعل ې ده ـ چې له پاسه پرې "ء " وی "ئ" ـ دې ته یائې فعلي هم وئیلے کیږي ـ چې کار کول ترې مراد وي ـ لکه ځئ، راځئ، خورئ - د دې اؤ د یائې تانیث اواز یو شان وي-

## ے :

پینځمه ې یائې مجهول "ے" یا اوږده ې ده ـ دا صرف د لفظ پهٔ اخیر کښې لیکلے کیږي ـ او پهٔ مخکښې توري زورکے ( َ ) وي ـ زیاتره د مذکر او واحد له پاره استعمالیږي ـ لکه زلمے ، تندے، ازغے او نور ـ

## یو څو وضاحتونه

مد پهٔ پښتو کښې نشته ـ آدم ، آم او آمین به ادم ، ام او امین لیکو ـ او داسې نور

هغه کلمې چې د فارسی او عربی ژبو نه راغلي دي ـ او خپلې معنې ئې برقرار ساتلي دي ـ هغه به هم هغسې لیکلے کیږی ـ لکه قرآن، قمیص وغېره
د نورو ژبو هغه کلمې چې پښتو خپلې کړې دي ـ او شکل یا معنې ئې بدلې شوي دي ـ هغه به پهٔ پښتو رسم الخط کښې لیکلے کیږي ـ

## د پښــتو تنقیطي علامتونه

د لیک نخښي یا تنقیط
پۀ یو لیک کښي دا هغه علامتونه دي ـ چې د جملو د یو بل سره نسبت پیدا کوي ـ د یو ځائي کولو یا د جدا کولو له پاره د دې صحي اؤ په ځائې استعمال ډېر زیات ضروري دے ـ

### خط کښ یا ډېش ( ـ ) :
د جملې په اخیر کښې استعمالیږي ـ چرته چې یوه خبره مکمله شي ـ لکه زۀ پرون پۀ څۀ کار پسې مینګورې له تلے وم ـ

### چپه واو (،) یا ویر ګول
دا یوه لنډه وقفه ښائي، مونږ ورته سکته یا فاصله هم وئیلے شو ـ د دې علامت د استعمال ځایونه دا دي

الف : پۀ یوه جمله کښې اسمونه، فعلونه، صفتونه یا نور ترکیبونه د یو بل نه جدا کولو له پاره لکه تلل، راتلل، ښکل، خوړل وغېره

ب : د هغې کلمو نه وروستو چې ځان خلکو ته متوجه کوي لکه : ملګرو، سبا به کالام ته ځو ـ

ج : د عاطفه واو پۀ ځائې لکه : ځلان، ناموس ، ادم او مونږ ټول پښتو لیکو ـ

### کامه (،) :
دا علامت د یوې جملې د یو شان برخو پۀ مېنځ کښې د یوې لنډې وقفې له پاره استعمالیږي ـ چې خبره لا ختمه نۀ وي ـ خو د دې بې ځایه استعمال د جملې معنا یکسر بدلولے شي لکه: څه مۀ، ودرېږه ( دلته مطلب ودرېده دی) که دا کامه د مۀ نه مخکښې ولګي ـ نو معنا به ئې یکسر بدله شی لکه څه، مۀ ودرېږه ـ

### دوه ټکی :
دا په جمله کښې د تشریح له پاره راځي لکه د پاکستان څلور صوبې دي: سند، پښتونخواه، بلوچستان او پنجاب

## سوالیه یا استفهامیه ؟

دا علامت د هغې جملې پۀ اخیر کښې راځي ـ چې څۀ پوښتنه لري ـ لکه: تاسو چرته ځئ؟

## ندائیه یا د تعجب علامت (!) :

دا علامت د هغې جملو په اخیر کښې راځي چې خوشحالي، خفګان، تعجب، تحسین، درد یا دهشت لرى  لکه: آفرین ! ډېر ښه ! اوه! واه! او نور

## دوه قوسه ( ) :

دا د جملې پۀ مېنځ کښې د وضاحت یا تشریح له پاره راځي ـ خو د دې نه بغېر د جملې پۀ جوړښت څۀ اثر نۀ پرېوځي ـ
لکه: جمال (د کمال پلار) زما د ورور ملګرے دے ـ

## دوه غبرګ قوسونه یا ممیزه " " :

پۀ جمله کښې د چا د حوالې له پاره چې هم د ویونکی پۀ ټکو کښې نقل کړے شوي وي ـ یا د پوهانو اقوال او نور لکه : بابا وې ـ چې " زۀ درشم نو هله به ځو"

## درې ټکي ( ... ) :

دې ته د انصراف علامت هم وائي ـ دا د یو موضوع پرېکړې یا نیمګړتیا طرف ته اشاره کوی ـ
لکه ډېر دې قار کړے یم خو...... څۀ نۀ شم وئیلے نو

## تفریقیه علامت [ ] :

کله چې د یو وضاحتي ټکو پۀ مینځ کښې بل وضاحتي یا تشریحي ټکي راوړے شي ـ یا کوم وخت چې د معترضه جملې په مینځ کښې بله معترضه جمله یا کلمه راوړے شي نو هغه ددې علامې په مینځ کښې لیکلے کیږي لکه " امیر حمزه خان شینواري ( خداې [ج] دې وبخښي ) د پښتو غزل بابا وۀ "ـ

## د قاعــدې لنډه پیژندګلو

### اسم یا نوم :Noun

اسم هغه کلمه ده چې د یو څیز، انسان، حیوان یا د ځاې نوم وي ـ د دې دوه قسمونه دي ـ

الف ـ عام اسم (Common Noun)
هغه اسم ته وائي چي هغه نوم د هرجنس له پاره عام وي لکه ګلاب، کتاب، سړے، ښځه

ب ـ خاص اسم (Proper Noun)
هغه اسم ته ویلے شي ـ چې هغه د یو جنس له پاره خاص وي ـ لکه غني، حمزه ، پښتونخوا، پښتو

اسم د حالت له مخې فاعل وی یا مفعول

فاعل (Subject)
هغه څوک یا څیز چې یو کار کوي لکه کالو خان پښتو لیکي ـ په دې کښې کالو خان فاعل دے ـ

مفعول (Object)
هغه څوک چې فاعل پرې کار کوی لکه بابا ځلان ته اووې ـ په دې کښې ځلان مفعول دے

اسم د جنس له مخې درې قسمه دے:
مونث (ښځه ) لکه جینۍ، سپوږمۍ
مذکر ( نر ) لکه تندے ، سړے
مستوی جنس: چې د نر اؤ ښځې دواړو له پاره راځي لکه مچ، ماشے، مېږے او نور

### ضمیر (Pronoun)

هغه کلمه چې د اسم یا نوم په ځائې راځي لکه زۀ، مونږ ـ دا، دوی ـ ستا، ستاسو او نور

ضمیر درې حالتونه لری:

ویونکے، متکلم (First Person)
هغه څوک چې خبرې کوي لکه زۀ پښتو لیکم ـ په دې کښې ( زۀ ) متکلم دے

اورېدونکے، مخاطب (Second Person)

مخاطب هغه څوک دے یا دي چې متکلم ورته خبرې کوي لکه تهٔ کور ته ځه ـ دلته ( تهٔ) مخاطب دے

غایب (Third Person)

غایب هغه څوک دي ـ چې متکلم د مخاطب سره د هغهٔ په باره کښې خبرې کوي لکه هغهٔ کور ته ځي ـ پهٔ دې کښې (هغهٔ) غایب دے

متکلم، مخاطب اؤ غایب واحد اؤ جمع لري:

متکلم مفرد: زهٔ، ما
متکلم جمع: مونږ

مخاطب مفرد: تهٔ، تا، دے، دا، دغه
مخاطب جمع: تاسو، دوي

غایب مفرد: هغه
غایب جمع: هغوي

فعل (Verb)

فعل هغه کلمه ده چې د یو کار کول ښکاره کوي ـ لکه وړم، خورم ، لیکم، راوړئ، ګورې، ژاړې او نور

قسمونه ئې څه په دا ډول دي:

متعدی فعل (Transitive Verb)

هغه فعل ته وئیلےکیږي ـ چې فاعل اؤ مفعول دواړه لري لکه نادر ډوډئ اوخوړه ـ په دې جمله کښې ( نادر ) فاعل،( ډوډئ) مفعول او ( اوخوړه ) متعدي فعل دے ـ چې د خوړل د مصدر نه جوړ شوے دے ـ

لازمی فعل (Intransitive verb)

هغه فعل ته وئیلےکیږي ـ چې مفعول لري او پهٔ جمله کښې ئې فاعل ښکاره کولو ته ضرورت نهٔ وي ـ لکه قلم مات شهٔ ـ دلته (قلم) مفعول دے او مات شهٔ لازمي فعل دے ـ ماتېدل فعل یو فاعل لري خو دلته پهٔ جمله کښې نهٔ دے راغلے ـ

### حکمیه، امر (Imperitive)

دا فعل د یو کار کولو حکم یا امر کوي لکه کور ته ځه، کتاب ولوله، سبزي راوړه او نور

### قېد (Adverb)

دا هغه کلمه ده چې پۀ فعل، صفت او یا بل قېد باندې اثر انداز شي ـ یا پرې تاثر پېدا کړي ـ لکه
نغمه پۀ خندا راغله ـ
پۀ دې جمله کښې ( پۀ خندا ) قېد دے ـ ځکه چې د راغله پۀ فعل ئې اثر کړے دے
سوات ډېر زیات ښکلے دے ـ
پۀ دې جمله کښې ( ډېر ) قېد دے ـ ځکه چې د ( زیات) پۀ صفت ئې نور اثر کړے دے ـ
د وصال شپۀ ډېره زر تېره شوه ـ
پۀ دې جمله کښې ( ډېره ) قېد دے ـ ځکه چې د ( زر) پۀ قېد ئې اثر کړے دے ـ چې هغه پۀ خپله د ( تېره شوه) د فعل د پاره قېد دے ـ

### صفت (Adjective)

صفت هغه کلمه ده چې د اسم وضاحت کوي ـ لکه درون پښتون، ستر خوشحال، ښکلے سوات او نور
دلته درون، ستر اؤ ښکلے صفتونه دي ـ چې د اسم وضاحت کوي ـ

### مصدر (Infinitive)

مصدر هغه کلمه ده چې د هغې نه د فعل مختلف حالتونه جوړېږي ـ او د مصدر په اخر کښې (ل) وي لکه د خوراک نه خوړل، وېنا نه وئیل، د لیک نه لیکل، د کاتۀ نه کتل او نور

دغسې د مصدر نه د فعل نور حالتونه جوړیږی لکه: وېنا
حال ـ مطلقه ماضي ـ قریبه ماضي ـ بعیده ماضي ـ راتلونکې
وایم ـ اوویل مې ـ وئیلي مې دي ـ وئیلي مې وو ـ وایم به او داسې نور ـ

## د وصل توري (Conjugation)

دا هغه توري دي ـ چې دوه اسمونه یا دوه جملې یو ځائې کوي ـ لکه
او، چې، لکه چې، هر څومره چې، خو، یا، کۀ، کۀ څۀ هم، د وصل توري دي
د مثال پۀ توګه اسلام اؤ پښتو یو دي
تا وې چې زۀ به سبا درشم
ما انتظار کوۀ خو تۀ رانغلې
کۀ څۀ هم تۀ کور نۀ وې خو زۀ دراغلم
او داسي نور

## د ربط توري (Preposition)

د ربط توري د اسم یا ضمیر سره یو ځاې راځي او د اسم یا ضمیر رابطه د فعل سره ښائي لکه
الله ته هېڅ ګران نۀ دي
ما پۀ پښتو کښې لیکل وکړۀ
پۀ دې جملو کښې ( ته، پۀ ) د ربط توري دي ـ
اؤ نور لکه: له، سره، څخه، پورې، باندې، کښې وغېره

## حــوالې :

---

د پښتو لیک دود: پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر

پښتو ګرامر: صدیق الله رشتین

لیکوالې املا او انشا: ګل پاچا الفت